سیاہ فام غلام (پشتو)

# تور حَبَشي غُلام

## (دولس مُعجزې)




شَیخ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَھلِسُنَّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

**مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندې دُعا اولولئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتي کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د علم او د حکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخِر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدینہ بقیع
ومغفرت

د رسالې نوم: تور حَبَشي غُلام (دولس مُعجزې)

اول ځل: ربيع الاول ١٤٣٧ھ، دسمبر 2015ء

تعداد: ....................

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمي وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښ وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

www.dawateislami.net

# تور حَبَشي غُلام (دولس مُعجزې)

دا رِساله ''سیاہ فام غلام'' شیخِ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په اردو ژبه کښ لیکلي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښ د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښ څه غلطي یا کمې، زیاتي اوموموئ نو ستاسو په خِدمت کښ عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش: مَجلِسِ تراجِمِ دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

# فهرست


| نمبر | عنوان |
|---|---|
| 1 | د درود شریف فضیلت |
| 2 | تور حَبَشي غُلام |
| 4 | روښانه مخ |
| 5 | د آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور رڼرا |
| 6 | دیوالونه به روښانه شو |
| 6 | ورَکه شوي ستَن |
| 7 | د سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بَشَرِیَّت اِنکار کول څنګه دي؟ |
| 9 | د حافِظې قُوَّت ئې ورکړو |
| 10 | د سُنّتو نه ډك بیانونه اورئ |
| 11 | زه د ګمراهۍ نه څنګه خلاص شوم! |
| 13 | غیبي خبر |
| 15 | د دَیو په شان غټ اوښ |
| 17 | زمري راغلل |
| 19 | خپل مبارك مور و پلار ئې ژوندي کړل |
| 20 | مبارک مور و پلار ئې په توحِید قائِم وو |
| 21 | د یونُس عَلَیْہِ السَّلَام مهې به جَنَّت ته ځي |
| 21 | مور و پلار ئې جَنَّتیان دي |
| 22 | مړه چیلۍ ژوندۍ شوه |
| 24 | وفات شوي مَدَني ماشومان ژوندي شو |
| 27 | ګستاخ زمکې قبول نه کړو |
| 29 | په عِلمِ مُصطفٰی باندې اعتراض کول هلاکت دي |
| 30 | د مُصافَحه کولو څوارلس مَدَني ګلونه |
| 33 | دِیدارِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم |
| 34 | زه د غیر مُلکي فِلمونو شوقین ووم |
| 35 | د نیکانو سره مَحَبَّت کله د ثواب خبره ده؟ |
| 36 | د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د پاره د مَحَبّت کولو اته فضائِل |
| 38 | د درود په ځائې لیکل حرام دي |


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# تور حَبَشي غُلام[1] (دولس مُعجزې)

شيطان که هر څومره ناراستي درولي خو تاسو دا رِساله پوره اولولئ
اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ ستاسو زړه به د خوشحالئ نه ټوپونه وهل شروع کړي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د اِمامُ الْاَنبياء حضرتِ مُحَمَّد مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: جِبرئيل (عَلَیْهِ السَّلَام) ما ته عرض اوکړو چه رَبّ تَعَالٰی فرمائي: اے مُحَمّد! (صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) آيا ته په دې خبره راضي نه ئې چه ستا اُمَّتي په تا باندې يو ځل درود شريف را اوليږي [يعني اووائي]، زه په هغه باندې لس رحمتونه نازِل کړم او ستاسو په اُمّت کښې چه څوك [په تاسو] يو سلام را اوليږي [يعني اووائي] زه په هغه لس سلامونه اوليږم. (مِشْكَاةُ الْمَصَابِيْح، ج١ ص١٨٩ حديث٩٢٨ دارُ الْكُتُبِ الْعِلْمِيه بيروت) مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الْاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د رَبّ عَزَّوَجَلَّ د سلام ليږلو نه مُراد يا خو د فرښتې په ذريعه سلام ليږل دي او يا د آفتونو او مصِيبتونو نه سلامت ساتل دي. (مِراۃُ الْمَنَاجِيح ج ٢ ص ١٠٢ ضِياءُ الْقُرآن)

---

1 دا بيان امِيرِ اَهلِسُنّت (دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه) د تبليغ قرآن و سُنّت د عالمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اِسلامي د دولسم ربِيعُ الاوّل شريف (١٤٣٠ھ) د مِيلاد شريف په اِجتِماع کښې فرمائيلې وو. د ضروري ترميم سره د لِيك په صورت کښې حاضر دې.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل کړي. (مُسلِم)

مصطفٰے جانِ رحمت پہ لاکھوں سلام شَمعِ بزمِ ہدایت پہ لاکھوں سلام

مُصطفٰی جانِ رَحمت باندې ډير ډير سلام
په شمع د هِدايت باندې ډير ډير سلام

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# (۱) تور حَبَشي غُلام

د عربو په صَحرا کښې يوه قافِله خپل منزِل طرف ته روانه وه. په لاره کښې ورسره اوبه ختمې شوې. قافِلې والا د سختې تندې د لاسه بې تابه شو او مرګ ته نزدې شو چه کرم پرې اوشو [هغه داسې چه]ے

ناگہانی آں مُغیثِ ہر دو کَون مصطفٰی پیداشُدہ از بہرِعَون

يعني ناڅاپه د دواړو جهانو فرياد اوريدونکي خوږ خوږ **مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د اِمداد د پاره تشريف راوړو. قافلې والؤ کښې ساه راپيدا شوه! خوږ خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ”د هٰغه **مخامخ** ختې شا ته په اوښ سور يو **تور حَبَشي غُلام** تيريږي، د هغه سره [د اوبو] يو مَشك دې، هغه د اوښ سره زما خوا ته راولئ. چنانچه څه خلق د ختې هٰغه طرف ته اورسيدل نو څه ګوري چه واقعي په اوښ سور يو **حَبَشي غلام** روان دې. خلقو هغه د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضِر کړو. خوږ مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه **تور حَبَشي غُلام** نه مَشك واخستو او خپل مبارَك لاس ئې په مَشك راښکلو، د مشك خُله ئې اوسپړدله او اوئې فرمائيل: ”راشئ تږو!

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درود پاک لوستل هير كړل هغه دَ جنّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

خپله تنده ماته كړئ." نو د قافلې والؤ بنه په مړه اوبه اوڅښلې او خپل لوښي ئې هم ترې ډك كړل. هغه **حَبَشي غُلام** چه دا مُعجِزه اوليدله نو **د نبيانو د سردار** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لاس ښكُلوَل ئې شروع كړل. **سركارِ نامدار** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل روښانه او مُنَوّر مبارك لاس د هغه په مخ باندې راښكلو.

شُد سَپيد آ ں زِنگی زا د ۂ حَبَش
ہَمچوبَدرو رَوزِ روشن شُد شَبَش

**يعني د هغه حَبَشي تور مخ داسې سپين شو لكه د څوارلسې سپوږمئ چه توره شپه د رڼا ورځې په شان روښانه كړي.** د هغه حَبَشي په ژبه كَلِمهٔ شهادت جاري شوه او هغه **مسلمان** شو او دغسې د هغه زړه هم روښانه شو. د مسلمانيدو نه پس چه كله د خپل مالِك خوا ته اورسيدو نو مالِك ئې د پيژندلو نه اِنكار اوكړو. هغه ورته اووئيل: زه ستا هم هغه غلام يم. مالِك ئې ورته اووئيل: چه هغه خو **تور غُلام** وو، هغه ورته اووئيل: صحيح ده خو ما په **حُضُورِ پُر نُور** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې اِيمان راوړې دې، ما د داسې **نُورِ مُجَسَّم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غُلامي اختيار كړې ده چه هغوئي زه د څوارلسمې سپوږمئ [په شان] جوړ كړم، [داسې هستئ] چه څوك د هغوئي صُحبَت اختيار كړي نو د هغه نه تول [بد] رنګونه والوَځي، هغوئي د كُفر او ګناهونو تور رنګونه هم لرې كوي، كه زما د مخ تور رنګ لرې شو نو دا څه عجيبه خبره ده!

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو، تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنی)

(مُلَخَّص از مثنوی شریف مُتَرجَم ص ۲۶۲)

جو گدا دیکھو لئے جاتا ہے توڑا نور کا
نور کی سرکار ہے کیا اس میں توڑا نور کا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو**! د دواړو جهانو د سُلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اوچت شان نه قربان شم! **الله الله**! د غونډئ شا ته د تيريريدلو والا سرې خبر ئې په څه شان ورکړو چه د هغه رنګ تور دې او هغه په اوبښ سور دې او د هغه سره [د اوبو] مَشك هم دې، او بيا ئې د الله عَزَّوَجَلَّ په ورکړه داسې کرم اوکړو چه د يو مَشك اوبه د تولې قافلې د پاره کافي شوې او مَشك هم هغسې ډك پاتې شو، او د **تور حَبَشي غُلام** په مخ ئې **نوراني لاس** مبارك راښکلو نو د هغه تور مخ ئې **نُور نُور** کړو تر دې چه د هغه زړه هم روښانه شو او اِسلام ئې قبول کړو.

نور والا آیا ہے نور لیکر آیا ہے
سارے عالم میں یہ دیکھو کیسا نور چھایا ہے

نُور والا راغلې دې، نُور ئې هم راوړې دې
ټول عالم ئې ګورئ څنګه ښکلې پرقولې دې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (۲) روښانه مخ

**حضرتِ** سَیِّدُنا اُسَید بن اَبِی اَناس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: **د مَديني تاجدار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځل زما په مخ او سِينه باندې خپل روښانه لاس

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله مابنام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

رانښکلو. د هغې دا بَرَکت ښکاره شو چه زه به کله هم د تيَرې والا کور ته داخليدم نو هغه کور به روښانه شو.

(اَلْخَصَائِصُ الْکُبرٰی لِلسّیُوطی ج ۲ ص ۱٤۲ دارُالْکُتُبِ الْعِلْمِية بيروت، تاریخ دمشق ج ۲۰ ص ۲۱)

چمک تجھ سے پاتے ہیں سب پانے والے
مرا دل بھی چمکا دے چمکانے والے

رنړا اخلي ځليدونکي هر يو ستا نه
اے ځليدونکيه زما زړه هم کړئ روښانه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۳) د آقا ﷺ د نُور رنړا

**خوږو خوږو اِسلامي وروڼو**! چه سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د چا په مخ او سِينه باندې خپل روښانه مبارك لاس راښکاږي هغه رنړا کول شروع کړي نو ښځيله به د **حُضُورِ پُرنُور** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُورانِيَّت څه حال وي! په "**دارِمي شريف**" کښ دي چه: **حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: "چه کله به سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرې کولې نو ليدې به شوه لکه د **حُضُورِ پُرنُور** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخامخ غاښونو د مبارکو چاوونو نه چه نُور را اوځي."

(سُنَنُ الدّارِمی ج ۱ ص ٤٤ رقم ٥٨ دارُالْکِتابِ الْعربی بيروت)

ہیبتِ عارِض سے تھرّاتا ہے شُعلہ نور کا
کفشِ پا پر گر کے بن جاتا ہے گُپّھا نور کا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك اونه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

**د شعر ترجمه:** د رُعب دار مخ مُبارك نه ئې د نُور شعله په بنپه مباركه راپريوځي او د نور يو غونداري ترې جوړ شي.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٤) ديوالونه به روښانه شو

په ''شِفا شريف'' كښې دي: چه كله به د دواړو جهانو سردار، **خوږ خوږ مصطفٰى** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **مُسكې شو نو ديوالونه به روښانه شو.**

(الشِّفا ص٦١ مركزِ اهلِسُنّت بَرَكَاتِ رضا هِند)

اب مسکراتے آیئے سُوئے گناہ گار آقا اندھیری قبر میں عطّار آگیا

راشئ په مُسكا د گنهګار خوا ته آقا د تيَرو قبر ته عطّار راغي

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٥) وړكه شوې ستَن

**اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشَه صِدِّيقه رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا رِوايت فرمائي: ما د پيشمني په وخت كښې په كور كښې جامې ګنډلې چه ناڅاپه مې ستَن د لاسه پريوته او په دې ساعت ډِيوه هم مړه شوه. په دې كښې د **مديني تاجدار** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كور ته را داخِل شو نو ټول كور د **حُضُورِ پُرنُور** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روښانه مخ مبارك په نُور باندې **روښانه** شو او [په هغه رڼړا كښې] **وړكه شوې ستَن** پيدا شوه. (اَلْقَوْلُ الْبَدِيع ص٣٠٢ موسسة الريان بيروت)

سوزنِ گُمشُدہ ملتی ہے تبسُّم سے ترے
شام کو صُبح بناتا ہے اُجالا تیرا (ذوقِ نعت)

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس (يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

ورکه ستن را پيدا کيږي په مُسکا ستا    د ماښامه سحر جوړيږي په رنړا ستا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!    صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

سُبحٰنَ الله! د **حُضُورِ پُرنُور** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُورٌعَلٰی نُور د اوچت شان به څه وائي! **مُفَسِّرِشَهِير حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: حُضُورِ اَنوَر صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بَشَر هُم دې او نُور هم دې يعني نُوري بَشَر دې. ظاهِري بَدن مُبارَك ئې بَشر دې او په حقِيقَت کښې نُور دې. (رِساله نُور مع رسائِلِ نعيميه ص ۳۹، ۴۰ ضياءُ القُرآن پبلي کيشنز مرکزُ الاولِياء لاهور)

## د سرکار ﷺ د بَشَرِيَّت اِنکار کول څنګه دي؟

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** بيشکه زمونږه د مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حقيقت نُور دې خو دا ياد ساتئ چه د بَشَرِيَّت د اِنکار کولو اِجازت نشته. چنانچه اعلیٰ حضرت، اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د نَبِيِّ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بَشَرِيَّت مُطلَقاً انکار کول کُفر دې. (فتاوٰی رضويّه ج ۱۴ ص ۳۵۸) خو د نَبِيِّ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بَشَرِيَّت د عامو انسانانو په شان نه دې بلکه هغوئي سَيِّدُ البَشَر، اَفضَلُ البَشَر او خيرُ البَشَر دې. د اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فرمان دې:

قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ (پ۶ المآئدة: ۱۵)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه تاسو ته د اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) د طرف نه يو نُور راغې او روښانه کتاب.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما د جُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به د قِیامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العُمَّال)

په دې پاس ذِکر شوې آيتِ مُبارَکه کښې د نُور نه مُراد **حُضُورِ اَکرم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې. چنانچه سَیِّدُنا اِمام مُحَمّد بِن جَرِیر طَبَری رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه (وفات ۳۱۰ هجري) فرمائيلي دي: **يَعْنِيْ بِالنُّوْرِ مُحَمَّدًا** (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) يعني د نُور نه مُراد **مُحَمّدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې.

(تَفسِيرُ الطَّبَرِی ج٤، ص٥٠٢ دارالکُتبِ العِلمِية بيروت)

جلِيلُ القدر، حافِظُ الحديث اِمام ابُوبکر **عبدُ الرَّزّاق** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه په خپل "**اَلْمُصَنَّف**" کښې د حضرتِ سَیِّدُنا جابِر بِن عبدُ الله اَنصاري رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت کوي، هغوئي وائي چه، ما عرض اوکړو: "**يَارَسُولَ الله** (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) زما مور و پلار دِ په تاسو قُربان وي! ما ته اوښائي چه د ټولو نه مخکښې الله عَزَّوَجَلَّ څه څيز جوړ کړو؟ اوئې فرمائيل: اے جابِرا! بيشکه بِاليقِين، اللّٰه تَعَالٰی د ټول مخلوق نه مخکښې ستا د نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **نُور** د خپل **نُور** نه پيدا کړو."

(فَتاوٰی رَضَوِيّه ج٣٠، ص٦٥٨، اَلْجُزءُ المَفقُود مِنَ الجُزءِ الاَوّل مِنَ المُصَنَّف، لِعَبدِالرَّزّاق، ص٦٣ رقم ١٨)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! زما مشوره ده چه د "نُور" د مسئَلې د تفصِيلي معلوماتو د پاره د مُفَسِّرِ شَهِير حَکِيمُ الاُمَّت حضرتِ مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه "رِسالۀ نُور" اولولئ.

مرحبا آیا ہے کیا موسم سُہانا نور کا — بُلبلیں گاتی ہیں گلشن میں ترانہ نور کا
نور کی بارش چھما چھم ہوتی آتی ہے اَسیرؔ تو رضاؔ کے ساتھ بڑھ کر تم بھی حصّہ نور کا

مرحبا څه ښکلې موسِم دې راغلې د نُور
بُلبلان وائي په گُلشن کښې غزلې د نُور

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

هر طرف وريږي باران د نُور اے اَسِير
د رضا سره واخله ته هُم حصّې خپلې د نُور

## (٦) د حافِظې قُوَّت ئې ورکړو

**حَضرتِ** سَیِّدُنا اَبُو هُریره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې عرض اوکړو: یَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زه ستاسو نه مبارَك ارشاد اورم خو را نه هير شي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: اَبُو هُريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ! خپل څادر خور کړه. ما [څادر] خور کړو نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پکښې په خپلو د رحمت ډکو لاسو باندې څه ور واچول او اوئې فرمائيل: اے **اَبُو هُريره** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ! دا پورته کړه او خپلې سينې ته ئې اولګوه." ما حُکم اومنلو [يعني هم دغسې مې اوکړه]. د هغې نه پس (زما حافِظه يعني ياد داشت دومره مضبوط شو چه د هغې نه پس) زما نه هيڅ هم نه دي هير شوي.

(صحيحُ البُخاری ج۱ ص۲، ۶۲، ۹۴، حديث ۱۱۹، ۲۳۵۰ دارالکُتب العِلمِیة بيروت)

مالکِ کونَین ہیں گو پاس کچھ رکھتے نہیں
دو جہاں کی نعمتیں ہیں ان کے خالی ہاتھ میں

زمونږه **خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د دواړو جهانو بادشاهي ورکړې ده، هغوئي د ځان سره دُنياوي مال نه ساتي، خو د هغوئي په تشو لاسونو کښې د دواړو جهانو نعمتونه دي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

## د سُنّتو نه ډك بيانونه اورئ

**خوږو خوږو اِسلامي وروڼو**! معلومه شوه، چه اللّٰهُ غَفّار عَزَّوَجَلَّ د مديني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته بيشميره اِختيارات ورکړي دي. بيشکه مادي [يعني ښکاره] څيزونه ورکول هم په خپل ځاۍ خو زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو نه ښکاريدونکې څيز **قُوّتِ حافِظه** [يعني د ياد داشت طاقت] هم خپل غُلام حضرتِ ابُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته عطا کړو!

زما مَدَني عرض دې چه د داسې اِيمان تازه کوونکو بيانونو د اوريدو د پاره د عِشقِ رَسُول نه ډك د **دعوتِ اِسلامي** د خوشبودار مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رحمتونو او سُنّتو نه ډکو بيانونو د اوريدو سعادت به مو هم نصيب کيږي او د **عاشِقانِ رسول** د صُحبَت په بَرَکت به مو اِيمان هم تازه کيږي. د سُنّتو نه ډکو **اِجتِماعاتو** کښې شِرکت کوئ، د **مَدَني قافِلو** مُسافِر جوړيږئ که کيدې شي نو هره ورځ د **مَکتَبَةُالْمَدِينه** چاپ شوې يوه رِساله لوَلئ او د سُنّتو نه ډك يو د بيان کيسټ هم اورئ [يا د بيان يوه وي سي ډي ګورئ يا د ميموري کارډ په ذريعه يو بيان اورئ يا کم از کم يوه ګينټه دولس منټه مَدَني چينل ګورئ]. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دِين او دُنيا بَرَکتونه به حاصل کړئ.

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه به د دوو سوو کالو ګناهونه معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

# زه د ګمراهۍ نه څنګه خلاص شوم!

ستاسو د ترغيب او تحريص [يعني د نيکو د حِرص راپيدا کولو] د پاره تاسو ته د کيسټ د اوريدو **مُتَعَلِّق** يو مَدَني سپرلي په خپل اَنداز کښې وړاندې کووم: د **تنظيمي** ترکيب مُطابِق د هِند بَغدادي د يو ښار **ملکاپور** د يو اسلامي وورور بيان دې: ما تقريباً پينځه کاله د مُلك نه بهر تير کړل، هلته د بدعقيده خلقو په صُحبَت کښې ګرفتار شوم او د هغې د سپيره والي په وجه زما په صفا سُتره د رَحمت نه ډکو **اِسلامي عقيدو** کښې خرابي شروع شوه. په دې دوران کښې هِند ته بيرته راغلم، د بدو عقيدو نه ډکې ديرش [۳۰] کيسټې او وې سي ډياني مې هم د ځان سره راوړې. د الله عَزَّوَجَلَّ داسې کرم اوشو چه د شنې شنې **عِمامې شريفې** والا يو اسلامي وورور سره مې ملاقات اوشو، هغوئي د مَحَبَّت نه ډك انداز کښې په ما باندې **اِنفِرادي کوشش** اوکړو او په ډير مَحَبّت ئې ما ته د دعوتِ اِسلامي د مَدَني مرکز نه جاري شوې يوه وي. سي. ډي په تُحفه کښې راکړه.[2] چه کور ته راغلم نو وي. سي. ډي مې اولګوله، اَلحَمدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ چه څنګه څنګه وي سي ډي چليدله هغه

2 د هغه وي سي ډي نوم "دِيدارِ اَميرِ اهلِسُنّت" دې. د مکتبةُ المَدينه نه ئې هَدِيةً حاصله کړئ يا ئې په اِنټرنيټ باندې د دعوتِ اسلامي په ويب سائټ www.dawateislami.net باندې اوګورئ.

مجلِس مَکتبةُ المَدينه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذی)

دغسې دغسې ورسره زما د زړه نه گُمراهي هم وِينځلې کيدله، چه وي سې ډې ختمه شوه نو زما زړه بې اِختياره اووئيل چه يقيناً دا وي سې ډې د اَهلِ حقّ ده دا مخونه د دروغژنو مخونه نه دي. ما دا عهد [يعني پخه وعده] کړې ده چه د دې وي سې ډې والؤ عقيده به تهول عُمر نه پريږدم. ما په ډيره جذبه کښې د ځان سره راوړې ديرش[۳۰] گمراه کوونکې کيستې او وي سې ډيانې [په دې نِيَّت] ضائع کړې چه چرې د دې په کتلو يا اوريدلو بل يو مسلمان گمراه نه شي.

سُونا جنگل رات اندھیری، چھائی بدلی کالی ہے
سونے والو جاگتے رہیو چوروں کی رَکھوالی ہے (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رَضا: زما د آقا اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې شعر دا معنٰی کيدې شي چه اے مسلمانانو! د دې دُنيا ځنګل خاموشه او برباد دې، بالکل توره تيَره شپه ده او دَ پاسه تورې تورې وريَځې خورې دي، په داسې خوفناك حالت کښې اول خو چا له خوب نه شي ورتلې او که بيا هم اوده شوې ئې نو فوراً وِينښ شه او پاڅه ځکه چه د دې ځائ حِفاظت کوونکې به ستا څه حِفاظت اوکړي، دوئي خو پخپله ډاکوان دي. يعني هر طرف ته د غفلتونو او نَفساني خواهِشاتو تورې تيَرې خورې دي، دا نفس و شيطان چه ستا سره هر وخت يو ځائ دي دوئي خپل خيرخواه مه ګڼړه دا محافِظان نه دي بلکه غله دي. خبردار! هوښيار او بيدار اوسه!!! چرې دوئي ستا اِيمان غلا نه کړی، يعني د ايمان نه دِ محرومه نه کړي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ گناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

د اللّٰهعَزَّوَجَلَّ په عطا [يعني وركړه] سركارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته **عِلمِ غيب** حاصِل دې او سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خلقو ته د غيبو خبرونه هم وركوي. په دې باره كښې يو اِيمان تازه كوونكې رِوايت اولولئ او خوشحاله شئ:

## (۷) غيبي خبر

**حضرتِ** سَيِّدَتُنا اُنَيسه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا فرمائي چه: ما ته خپل والِد مُحترم اووئيل: زه بيمار شوم نو **خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما د تپوس د پاره تشريف راوړو چه زه ئې اوليدلم نو اوئې فرمائيل: په تا به د دې بيمارئ په وجه هيڅ هم نه كيږي خو ستا به هغه وخت څه حال وي چه كله ته زما د وِصال [يعني زما د دُنيا نه د سفر كولو] نه پس د اوګد ژوند تيرولو نه پس **نابينا** شې؟ چه دا مې واوريده نو ما عرض اوكړو: يارسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه به هغه وخت د ثواب ګټلو د پاره **صبر** كووم. اوئې فرمائيل: كه ته داسې اوكړې نو بې حِسابه به جَنَّت ته داخِل شې. چنانچه د حُضُورِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهِرې وِصال [يعني د دُنيا نه د سفر كولو] نه پس هغوئې نابِينا شو، بيا د يوې مودې نه پس اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئې بيرته بِينا كړلو او بيا هغوئې وفات شو.

(دَلَائِلُ النُّبُوَّه لِلبَيهَقِي ج٦، ص٤٧٩، دارُالكُتبِ العِلمِية بيروت)

اے عَرَب کے چاند چمکا دے مِری لوحِ جَبیں ہو ضِیاء کو پھر مدینے میں نظارہ نور کا

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

**د شعر ترجمه:** اے د عرب شَهَنشاه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما د قِسمَت ستورې روښانه کړې، ضياء بيا اوغوارئ چه په مدينه کښې ستاسو د نُور نظارې اوکړې.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د مدينې سردار، په غيبو خبردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل پروردګار عَزَّوَجَلَّ په عطا [يعني ورکړه] د خپلو غُلامانو د عُمرونو نه هم خبردار دې او د هغوئې سره چه څه پيښيدو والا دي د هغې نه هم خبر دې. د قرآنِ مجيد په بيشميره آياتِ مبارَکه کښې د حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِلمِ غيب ثبوت موجود دې. دلته صرف يو آيتِ کريمه پيش کووم چنانچه په سيپاره ۳۰ سُوْرَةُالتَّكْوِير آيتِ ۲٤ کښې اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰى ارشاد فرمائي:

وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ ﴿۲۴﴾ (پ ۳۰ التكوير: ۲٤)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالايمان: او دا نبي (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په غيبو ښودلو کښې بخيل نه دې.

سرِ عرش پر ہے تِری گزر، دلِ فرش پر ہے تِری نظر
ملکوت و ملک میں کوئی شے نہیں وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں (حدائقِ بخشش شریف)

**شرحِ کلامِ رضا:** يا رَسُولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د عرش د پاسه او په فرش يعني په زمکه کښې دننه هر يو خيز تاسو ته ښکاره دې. دُنيا جهان کښې يو خيز هم داسې نشته چه تاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ښکاره نه دې.

ذِکر کړې شوې رِوايت نه دا هم معلومه شوه چه کله څه مُصيبَت راشي يا مُسلمان معذوره شي نو هغه له د اجر ګټلو د پاره صبر کول

فرمانِ مُصطَفےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

پکار دي. چنانچه د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه نَبِيِّ اکرَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي چه اللّٰہتَعَالٰی فرمائي: "کله چه زه د خپل بنده نه سترګې واخلم، بيا هغه صبر اوکړي، نو د سترګو په بدله کښې به هغه ته **جَنَّت** ورکووم."

(صحيحُ البُخاری ج ٤ ص ٦ حديث ٥٦٥٣ دارالكُتبِ العِلمِية بَيْرُوت)

ہے صبر تو خزانۂ فِردوس بھائیو!
شِکوہ نہ عاشِقوں کی زَبانوں پہ آسکے

وروڼرو! صبر خزانه ده د فِردوس ‌ ‌ ‌ کِيله نه راځي په ژبه د عاشِق

## (٨) د ديو په شان غټ اوښ

**مَكَّۂ مُكَرَّمه** زَادَھَا اللّٰہُ شَرَفًا وَّتَعْظِیْمًا ته يو تاجر راغې. د هغه نه ابُوجهل مال [په بيعه] واخستو خو په رقم ورکولو کښې ئې لم ليټ اوکړو. هغه کس پريشانه شو او د قُريشو خلقو له راغې او اوئې وئيل چه: په تاسو کښې داسې څوك شته چه هغه په ما مسافر او غريب باندې رحم اوکړي او ما له د اَبُوجهل نه زما حق راواخلي؟ خلقو د جُمات په کُوټ کښې ناست **يو صاحِب** ته اِشاره اوکړه او ورته ئې اووئيل چه: د هغوئي سره خبره اوکړه، هغوئي به ضرور ستاسو مدد اوکړي. د قريشو د خلقو [د دې تاجر] هغه "صاحِب" له د ليږلو دا مطلب وو چه که دا "صاحِب" ابوجهل له ورغلو نو هغه به د دوئي توهين [يعني بې

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرَانِي)

عِزّتي] اوكړي او مونږ به ترې خوند واخلو. مُسافِر د هغه صاحِب په خِدمَت كښې حاضر شو او ټول احوال ئې ورته بيان كړو. هغوئې پاځيدل او د ابوجهل دروازې ته ئې تشريف يوړلو او دروازه ئې اوډبوله. ابوجهل د دننه نه تپوس اوكړو: څوك ئې؟ دوئي جواب وركړو: مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم. ابوجهل د دروازې نه بَهر ته را اووتو، او د هغه په مخ د يَرې اثر ښكاره معلوميدو. تپوس ئې اوكړو: څنګه راغلي ئې: د بې وَسو مددګار مُحَمَّدِ عَرَبِي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: د ده حق ولې نه وركوې؟ عرض ئې اوكړو: اوس ئې وركووم. دا ئې اووئيل او دننه لاړو، رقم ئې راواخستو او مُسافِر ته ئې حواله كړو او دننه لاړو. كتلو والؤ ترې وروسته تپوس اوكړو چه: ابوجهله! تا خو ډير عجيبه كار اوكړو. هغه اووئيل: بس څه اووايم، چه كله مُحَمَّدِ عَرَبِي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل نوم واغستو نو په ما يو دم يَره راغله، چه څنګه باهر راغلم نو يو يَرَوونكې منظر مې اوليدو، څه وِينم چه د ډَيو په شان يو غټ اوښ ولاړ دې. دومره خوفناك اوښ ما كله هم نه وو ليدلې. بس چپ چاپ په پټه خُله خبره مَنلو كښې را ته خپل خير ښكاره شو كنې هغه اوښ به زه خوړلې ووم.

(اَلْخَصَائِصُ الْكُبْرٰى لِلسّيوطى ج١ ص٢١٢، دارالكُتُبِ العِلمِية بَيْرُوت)

واللہ! وہ سن لیں گے فریاد کو پہنچیں گے اِتنا بھی تو ہو کوئی جو "آہ!" کرے دل سے

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

وَاللّٰه هغوئي به واوري، مدد له به هم را شي
كه اوكړي په خُوګ زړه، هغوئي ته ځوك فرياد

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ زمونږه د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خلقو سره د ملګرتيا ځومره ښكلې شان دې! هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به څنګه د پريشان حالو او غمژنو مدد فرمائيلو او د مظلومانو د پاره به ئې د خلقو نه د هغوئي حقونه اغستل. او اللّٰهُ رَحمٰن جَلَّ جَلَالُه هم په خپل محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې ځومره مهربانه دې او د دُښمَن په مُقابَله كښې د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څنګه مدد فرمائي! ابوجهل چه ازَلي كافِر او د هميشه د پاره د اِيمان نه محرومه وو، دومره عظيمُ الشّانه مُعجِزه په خپلو سترګو د ليدلو باوُجود هم بې اِيمانه پاتې شو! بس دا د خپل خپل نصيب خبره ده.

كوئى آيا پاكے چلا گيا كوئى عمر بھر بھى نہ پا سكا
يہ بڑے كرم كے ہيں فيصلے يہ بڑے نصيب كى بات ہے

**د شعر ترجمه:** چا د راتلو سره خپله برَخه حاصله كړه او چا ټول عمر هيڅ هم اونه موندل، دا د ډير كرم فيصلې دي، دا د لوئي نصيب خبره ده.

## (۹) زمري راغلل

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ حبيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يوې بلې عظيمُ الشّانه مُعجزې او د بدنصيبه ابوجهل د ړوند زړه يو حِكايت واورئ: ولي

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

چه زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خلقو ته د نيکئ دعوت ورکولو په دې وجه کُفّارِ قُريش د هغوئ دُښمنان شوي وو او خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به ئې قِسم قِسم تکليفونه ورکول. يو ځل تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **حجُون دَرې** طرف ته تشريف يوړو. دا موقع ئې چه اوموندله نو يو ضَررې دُښمن نَضر (نومې کافِر) د هغوئ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهيد کولو په اِراده هلته ورغې. چه څنګه هغه د **الله** عَزَّوَجَلَّ حبيب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته نِزدې شو نو يو دَم اوېَريدو او دوه ښپې ئې خپلې کړې او دوه پړدئ او ښار طرف ته اوتښتيدو. چه کله ابوجهل دا حالت اوليدو نو تپوس ئې ترې اوکړو چه څه قِصه ده. هغه اووئيل: "زه نن په **مُحَمَّدِ عَرَبی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې د قتل کولو په اِراده تلې ووم، چه کله ورنِزدې شوم نو څه ګورم چه **يو څو زمرو خُلې وازې کړې وې، غاښونه ئې کرَپول او زما طرف ته راروان وو!** بس په تيښته مې ترې ځان راخلاص کړو. دومره **عظِيمُ الشّانه مُعجِزه** ئې چه واوريدله نو هم بدنصيبه ابوجهل اووئيل: دا هم د **محمّد** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جادو کارنامه ده. **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ

(اَلخَصائِصُ الکُبرٰی لِلسّیُوطی ج۱ ص۲۱۵ دارالکُتبِ العِلمِیة بَیْرُوت)

اُف رے مُنکِر یہ بڑھا جوشِ تعَصُّب آخر
بِھیڑ میں ہاتھ سے کمبخت کے ایمان گیا (حدائقِ بخشش شریف)

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاك اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

اُف اے مُنكِره خومره زړه كښې دُښمني لرې ته
وارخطائي كښې د كمبخته نه اِيمان لاړو

## (١٠) خپل مبارك مور و پلار ئې ژوندي كړل

هر يو ته خپل مور و پلار ګران وي، نو زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به ولې نه وي ګران! خپل مبارَك مور و پلار ئې په خپل اُمَّت كښې د شامِلَوَلو د پاره د ربِّ قادِر عَزَّوَجَلَّ په عطا [يعني وركړه] خومره عظيمُ الشّانه مُعجِزه اوښودله. تاسو هم واورئ او خوشحاله شئ: **اِمام ابُو اَلقاسِم عبدُ الرَّحمٰن سُهَيلي** (وفات ٥٨١ هجری) په ''اَلرَّوضُ الاُنُف'' كښې نقل كوي چه **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا رِوايت فرمائي: **سرکارِ مدينه** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوكړه: **يا اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ زما مور او پلار ژوندي كړې'' اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خپل **محبوب** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا قبوله كړه او دواړه ئې ژوندي كړل او دواړو په حُضُورِ اَقدس صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې اِيمان راوړو او بيا ئې خپلو پاكو مزاراتو ته تشريف يوړو.

(اَلرَّوضُ الاُنُف ج١ ص٢٩٩ دارالكُتُبِ العِلمِية بَيرُوت)

اِجابت کا سہرا عنایت کا جوڑا   دُلہن بن کے نِکلی دعائے محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم
اجابت نے جھک کر گلے سے لگایا   بڑھی ناز سے جب دعائے محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

**د شعر ترجمه:** د حُضُورِ اكرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُبارَكې ژبې نه چه كومه دُعا اوځي نو هغه داسې قبليږي چه قبوليت هغې له ښخپله غاړه وركوي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رَسُول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

# مبارك مور و پلار ئې په توحِيد قائِم وو

زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لا د خپلې مباركې مور **سَيِّدَتُنا آمِنه** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهَا په مباركه ګېډه وو چه د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك پلار حضرتِ **سَيِّدُنا عبدُالله** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ د دُنيا نه پرده اوفرمائيله او چه كله د مَدَني آقا صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك عُمر د پينځه يا شپږ و كالو شو نو والِده ماجده رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهَا ئې هم د دنيا نه رُخصته شوه او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ مَحبوب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **څلويښتو كالو** په عُمر شريف كښې د نُبُوَّت اعلان اوفرمائيلو. د دې خبرې دِ څوك دا مطلب نه اخلي چه د حُضُورِ اكرم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مور و پلار ګني **معاذَالله** عَزَّوَجَلَّ د كُفر په حالت كښې وفات شوي وو او ګني په عذابِ قبر كښې ګرفتار وو ځكه د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته كلِمه اووئيله او مسلمانان ئې كړل چه د عذاب نه خلاص شي. نو داسې بالكل نه وه بلكه هغوئي دواړه په توحِيد باندې قائِم وو او په ژوند كښې كله هم هغوئي بُت پرستي نه وه كړې. د اللّٰهتَعَالٰی خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي په خپل اُمّت كښې د شامِلَوَلو د پاره بيا راژوندي كړي وو او كلِمه ئې پرې وئيلې وه.

مجھ کو اب کلمہ پڑھا جا مرے مدنی آقا — تیرا مجرم شہا دُنیا سے چلا جاتا ہے

اوس را ته اووايه كلمه زما مَدَني آقا
ستا دا مُجرِم اوس د دُنيا نه په سفر روان دې

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

## د يونُس عَلَيهِ السَّلام مهې به جَنَّت ته ځي

حضرتِ سَيِّدُنا اِسماعِيل حَقِّي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه په "تفسِير رُوحُ البيان" کښې نقل کوي: "حضرتِ سَيِّدُنا يونُس عَلَيهِ السَّلَام درې ورځې يا ووه ورځې يا څلويښت ورځې د مهې په خيټه کښې وو. لِهٰذا هغه مهې به جَنَّت ته ځي." (رُوحُ البيان ج٥ ص ٢٢٦، ٥١٨ کوئټه)

## مور و پلار ئې جَنَّتيان دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! سوچ اوکړئ! د کوم مهې په خيټه کښې چه د اللّٰه تَعَالٰی نبي حضرتِ سَيِّدُنا يونُس عَلَيهِ السَّلَام صرف يو څو ورځې وو هغه مهې به جَنَّت ته ځي او د کومې مور سَيِّدَتُنا آمِنه په کيډه کښې چه د حضرتِ سَيِّدُنا يونُس عَلَيهِ السَّلَام آقا محمّدِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د څو څو مياشتو پورې تشريف فرما وو نو هغه بي بي آمِنه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهَا دِ مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ په کُفر د دُنيا نه لاړه شي او د قبر په عذاب کښې دِ اخته شي دا چرې کيدې شي. يقيناً د دوارو جهانو د سردار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو مور و پلار رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهُمَا د ژوند هر ساعت په عقِيدهٔ توحِيد تير شوې وو او هغوئې جَنَّتيان دي. بلکه زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټول نيکونه [او نياګاني] اهلِ حق وو. د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره فتاوٰی رَضوِيَّه جلد ٣٠ د صفحه ٢٦٧ نه ٣٠٥ پورې اولولئ.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرَانِي)

خدا نے کیا ان کو بے مِثل پیدا نہیں دو جہاں میں مثالِ محمد
خدا اور نبی کا ہے اُس پہ تو سایہ جسے ہر گھڑی ہے خیالِ محمد

خدائے پيدا كړو هغوئي بې مِثل
په دواړو جهانو كښې نشته مِثال د مُحمّد
خُدائے او نبي دې په هغه مهربانه
څوك چه لري په زړه كښې هر وخت خَيال د مُحمّد

## (١١) مړه چيلۍ ژوندۍ شوه

**حضرتِ** سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ يو ځل د مدينې د سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارك دربار كښې حاضر شو نو **د مدينې د تاجدار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نُوراني مخ مبارك ئې د لوږې اثر اوليدو. كور ته راغلو او خپلې بي بي **محترمې** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه ئې تپوس اوكړو: په كور كښې د خوراك د پاره څه شته دې؟ عرض ئې اوكړو: په كور كښې د **يوې چيلۍ** [يعني بيزې] او د **وربشو** د لږو دانو نه سِوا هيڅ هم نشته. چيلۍ حلاله كړې شوه او وربشې وړه كړې شوې او ډوډۍ ترې پخې كړې شوې او په اِنكولې [يعني ښوروا] كښې پستې [يعني ماتې] كړې شوې او ثَرِيد تيار كړې شو. **سَيِّدُنا جابِر** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما دثَرِيد هغه لوښي يوړو او د مَدينې د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت كښې مې حاضر كړو. **رَحمتِ عالَم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته حُكم اوكړو: "اے جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ لاړ شه او خلق را اوبله." كله چه **صحابهٔ كرام** عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان حاضِر شو نو ارشاد ئې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اونه لولي. (تِرمِذی)

اوفرمائيلو: زما خوا ته لړ لړ را ليږه. چنانچه صحابهٔ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به حاضريدل او طعام به ئي خوړلو او بيرته به تلل، چه كله ټولو طعام اوخوړلو نو ما اوليدل چه په لوښي كښ په شروع كښ څومره خوراك وو هم هغه هُمره پكښ اوس هم موجود دي. بله دا چه **سركارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوراك كولو والؤ ته فرمائيل چه هډوكي مه ماتوئ. **د دوارو جهانو سردار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هډوكو د راجمع كولو حُكم اوفرمائيلو. چه كله هډوكي جمع كړې شو نو **د مديني تاجدار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل لاس مبارك په هډوكو د پاسه كيښودو او څه ئي اولوستل. په هډوكو كښ حَرَكت راپيدا شو او څه ګورو چه چيلئ غوږونه څنډل او راپاڅيده. سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپله چيلئ بوځه، ما چه كله بيزه [يعني چيلئ] كور ته راوستله نو بي بي محترمي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا را نه تپوس اوكړو: دا بيزه دِ د كوم ځائ نه راوستله؟ ما جواب وركړو: قسم په خُدائے عَزَّوَجَلَّ! دا هُم هٰغه بيزه ده كومه چه مونږه حلاله كړي وه. زمونږه د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دُعا اللّٰہ تَعَالٰی دا زمونږ د پاره ژوندئ كړه.

(اَلخصائِصُ الکُبرٰی ج۲ ص۱۱۲ دارالکُتبِ العِلمِیة بَیرُوت)

اک دل ہمارا کیا ہے آزار اس کا کتنا
تم نے تو چلتے پھرتے مُردے جِلا دیے ہیں

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِې په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اونه لولي. (تِرمِذِی)

**د شعر ترجمه:** يعني يا رسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما د يو زړه د ګناهونو د بيمارئ علاج ستاسو د پاره څه خبره ده، تاسو خو په خپلو مُعجِزاتو مړي هم ژوندي کړي دي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۱۲) وفات شوي مَدَني ماشومان ژوندي شو

**مشهور** عاشِقِ رسُول حضرتِ عَلّامه عبدُ الرَّحمٰن جامي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ رِوايت فرمائي: **حضرتِ** سيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ د خپلو حقيقي مَدَني ماشومانو په مخکښې چيلئ [يعني بِيزه] حلاله کړي وه. چه کله هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ اوزګار شو او تشريف ئې يوړو نو هغه دواړو مَدَني ماشومانو د ځان سره چاړه واغِستله او د کوټې سر ته اوختل، مشر وړور کشر وړور ته اووئيل: راځه! چه زه هم تا سره دغسې اوکړم څنګه چه زما والِد صاحِب د چيلئ سره کړي دي. چنانچه مشر وړور کشر وړور اوتړلو او په مرئ ئې ورته چاړه راښکله او سر ئې ترې لرې کړو او په لاسو کښې ئې پورته کړو! چه څنګه د هغوئي مور رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهَا دا نَظاره اوليدله نو په هغه پسې ئې منډه کړه هغه هم د تيښتيدو د پار منډه کړه او د کوټې د سر نه اولويدو او وفات شو. هغه صبرناکې مور هيڅ قِسم چغې سورې او وارخطائي جوړه نه کړه چه چرې عظيمُ الشّان ميلمه د دواړو جهانو سُلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پريشانه نه شي، په ډير

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

صبر او په قلاره ئې دواړه واړه مړي كوټې ته يوړل او ټوكې [يعني كپړه] ئې پرې واچوله او هيڅ څوك ئې خبر نه كړل تر دې چه **حضرتِ** سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته ئې هم اونه وئيل. زړه ئې اګر چه د غم نه ټكړې ټكړې وو خو خپل مخ ئې تازه او خوشحاله خوشحاله اوساتو او طعام وغيره ئې پاخه كړل. سركارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړو او طعام د هغوئې صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخې ته كيښودې شو، دغه وخت جبرئيلِ اَمِين عَلَیْہِ السَّلَام حاضِر شو او عرض ئې اوكړو: يا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اللّٰه تَعَالٰی فرمائي چه جابِر ته اوفرمائې چه خپل ځامن راولي چه هغوئې تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د طعام خوړلو شرف حاصِل كړي. رَسُولِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته اوفرمائيل: خپل ځامن راوله! هغوئې فوراً [د كوټې نه] بَهر اووتلو او د خپلې بي بي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه ئې تپوس اوكړو، ماشومان چرته دي؟ هغوئې اووئيل: د **حُضُورِ اَنور** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمَت كښې عرض اوكړئ چه هغوئې موجود نه دي. سركارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د اللّٰه تَعَالٰی فرمان راغلې دې چه هغوئې زر را اوبله! غم وهلې بي بي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا په ژړا شوه او اوئې وئيل: اے جابِره! اوس زه هغوئې نه شم راوستلې. حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: آخِر څه خبره ده؟ ژاړې ولې؟ بي بي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا [حضرت جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ]

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښن چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو هغه د جَنّت لاره پريښوده. (طَبَرَانِي)

دننه بوتلو او ټوله قِصّه ئې ورته اوکړه، کېږه ئې ترې اوچته کړه او ماشومان ئې ورته اوښودل، نو هغوئې هم په ژړا شو ځکه چه هغوئې د دې حال نه ناخبره وو. پس حضرتِ سَیِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ دواړه واړه مړي راوړل او د حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارکو قدمونو کښې ئې کیښودل. هغه وخت د کور نه د ژړا اوازونه راتلل شروع شو. اللّٰہُ رَبُّ الْعٰلَمِین عَزَّوَجَلَّ جبرئیلِ اَمِین عَلَیْہِ السَّلَام را اولیږلو او اوئې فرمائیل: اے جِبرئیل! زما محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته اووایه، چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ فرمائي: اے زما خوږه حبیبه! ته دُعا اوکړه مونږ به دوئې ژوندي کړو. حُضُورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په حُکم دواړه مَدَني ماشومان هُم هغه وخت ژوندي شو. (شَوَاهِدُ النُّبُوَّة، ص۱۰۵، مکتبة الحقیقة ترکی، مدارِجُ النُّبُوَّت حصه۱ ص۱۹۹) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رَحمت وي او د هغوئې په خاطِر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

قلبِ مردہ کو مرے اب تو جِلادو آقا
جامِ اُلفت کا مجھے اپنی پلادو آقا

کړه ژوندي مړ زړګې زما آقا خپل محبّت کړه را عطا آقا

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** تاسو اولیده! زمونږه د خوږ آقا مَدیني والا مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خومره ښکلې اوچت شان دې چه لږ طعام ډېرو خلقو اوخوړو، بیا هم په هغې کښې څه کمې رانغلو او بیا ئې د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

چيلۍ په تشو هډوکو څه کلام اولوستلو نو سره د غوښو او څرمنې بالکل هم هغه چيلۍ غوړونه څنډل او راپاڅيدله، او د حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ وفات شوي دواړه حقيقي مَدَني ماشومان ئې هم په اِذن د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ راژوندي کړل.

مُردوں کو جِلاتے ہیں رَوتوں کو ہنساتے ہیں آلام مٹاتے ہیں بگڑی کو بناتے ہیں
سرکار کِھلاتے ہیں سرکار پلاتے ہیں سلطان وگدا سب کو سرکار نبھاتے ہیں

مَړي ژوندي کوي، ژړيدونکي خندوي
غمونه ختموي، وران کارونه سموي
په ټولو باندې ښبي، په ټولو باندې خوري
بادشاه دې که غُلام دې، دا ټول هغوئي پالي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ګستاخ زمکې قبول نه کړو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اوس د شانِ رِسالَت د يو مُنکِرِ د شَقَاوت [يعني د بد بختۍ] يو عِبرتناك حِکايت واورئ او اوګورئ چه اللّٰه تَعَالٰى د خپل محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُښمنانو نه څنګه بدله اخلي. حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: چه يو نصراني [يعني عِيسائي] مسلمان شو او هغه سورهٔبَقَره او سورهٔآلِ عِمران اولوستلو. هغه به د نبيِّ رَحمت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره کِتابت [يعني ليکل] کولو، د هغې نه پس هغه (مُرتد شو او) دوباره عيسائي شو او دا بکواس به ئې کولو چه: مَا يَدْرِيْ مُحَمَّدٌ اِلَّا مَا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډېر نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

كَتَبْتُ لَهُ۔ يعني "محمّد (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) صرف دومره عِلم لري څومره څه چه ما د هغوئي د پاره ليکلي دي." په لږو ورځو کښې اللّٰه تَعَالٰی د هغه وَرمېږ [يعني څټ] **مات** کړو يعني هغه په غير فِطري طريقه مړ شو. د هغه ملګرو کنده اوکنستله او خخ ئې کړو، خو د سحر په وخت کښې **زمکې هغه بَهر ته را اوغورزوو.** هغوئې اووئيل، چه دا به **مُحَمَّد** (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) او د هغوئي ملګرو کړي وي، ولې چه دا د هغوئي نه راتښتيدلي وو څکه هغوئي زمونږ د مَلګري قبر کنستې دې. په **دويم ځل** هغوئي د هغه د پاره جوره کنده اوکنستله، خو سحر هغه بيا بَهر پروت وو، هغوئي وئيل: دا به **مُحَمَّد** (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) او د هغوئي ملګرو کړي وي، ولې چه دا د هغوئي نه راتښتيدلي وو څکه هغوئي زمونږ د ملګري قبر راکنستې دې. په **دريم ځل** چه هغوئي څومره جَوَره کنده کنستې شوه هغه هُمره جَوَره کنده ئې اوکنستله خو سحر ئې هغه د زمکې د پاسه پروت اوليدو. دا ځل هغوئي پوهه شو چه د ده سره دا سلوك د انسانانو د طرف نه نه دې، بيا هغوئي هغه هُم هغسې بَهر پروت پريښودو.

(صحيحُ البُخارى ج۷ ص۵۰٦ حديث ۳٦۱۷ دارالكُتبِ العِلمِية بَيْرُوت. صحيح مُسلِم ص۱٤۹۷ حديث۲۷۸۱ دارابنِ حزم بيروت)

نہ اُٹھ سکے گا قِیامت تلک خدا کی قسم
کہ جس کو تُو نے نظر سے گرا کے چھوڑ دیا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

قَسم په خُدائے پاڅیدې نه شي تر قیامته پورې
څوك چه محرومه کړلو تاسو د خپل خوږ نظره

صَـلُّـوْا عَـلَـی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُـحَـمَّد

## په عِلمِ مُصطفٰی باندې اعتراض کول هلاکت دې

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! تاسو اولیده؟ هغه بدقِسمته د کائِنات د تهولو نه د بهترین صُحبت قدر اونه کړو او د بدبختۍ په سبب **مُرتد** شو او د خپل رَحمت والا او مهربانه آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په **عِلمِ شریف** باندې ئې اِعتِراض اوکړو او د هغې په نتیجه کښې داسې تباه او برباد شو چه **هغه زمکې هم قبول نه کړو**. دا هم معلومه شوه چه **د الله** عَزَّوَجَلَّ د **محبوب** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په **مُبارَك عِلم** باندې اِعتِراض کول د دواړو جهانو د پاره د هلاکت باعِث دې. مومِن په شانِ رِسالَت او عِلمِ مُصطفٰی باندې کله هم اِعتراض نه شي کولې دا د منافِقانو برَخه ده. چا رِښتیا وئیلي دي: اَلنِّفاقُ یُوْرِثُ الْاِعتِراض یعني مُنافَقَت اِعتراض راپیدا کوي.

کریں مصطفٰی کی اہانتیں کھلے بندوں اِس پہ یہ جُرأتیں
کہ میں کیا نہیں ہوں محمّدی! ارے ہاں نہیں! ارے ہاں نہیں!

کوي ښکاره ګستاخۍ په شان د مصطفٰی کښې او د پاسه دا جُرأت
چه زه ګني محمّدي نه یم! نه ته بالکل نه ئې! نه ته بالکل نه ئې!

صَـلُّـوْا عَـلَـی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُـحَـمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخِره کښې د سُنَّتُو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانَولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشَاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ”چا چه زما د **سُنَّت** سره **مَحَبَّت** اوکړو هغه زما سره **مَحَبَّت** اوکړو او چا چه زما سره **مَحَبَّت** اوکړو هغه به په **جَنَّت** کښې زما سره وي.“ (مِشْکَاۃُ الْمَصَابِیْح ج۱ص۵۵ حدیث ۱۷۵ دارُالکُتُبِ الْعِلمیة بیروت)

سینے تیری سنت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مي دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا
جَنَّت کښې ګاونډي د ځان مي کړه خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ”مُصافَحه کول سُنَّت دي“ د څوارلسو حروفو په نِسبَت د مُصافَحه کولو څوارلس مَدَني ګلونه

(۱) د دوو مسلمانانو د ملاقات په وخت کښې سلام کول او په دواړو لاسو مُصافَحه کول یعني دواړه **لاسونه ورکول** سُنَّت دي (۲) د رُخصتیدو په وخت کښې هم سلام کوئ او لاس هم ورکولې شئ (۳) د نَبِيّ مُکَرَّم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشادِ مُعَظَّم دې: چه کله دوه مسلمانان ملاقات کولو کښې مُصافَحه کوي او د یو بل نه د خیریت تپوس کوي نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغوئې په مینځ کښې سل رَحمتونه نازلوي،

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي . (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

په هغې کښې يو کم سل رحمتونه په زياته ګرم جوشۍ سره د ملاقات کوونکي او په ښه طريقه د خپل وررور د خيريت تپوس کوونکي د پاره وي." (اَلْمُعجَمُ الْاَوْسَطُ لِلطَّبَرانِي ج٥ ص٣٨٠ رقم ٧٦٧٢) (٤) "چه کله دوه دوستان په خپل مينځ کښې ملاقات کوي او مُصافَحه کوي او په نبي (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندې دُرُود شريف لوَلي نو د هغو دواړو د جُدا کيدو نه مخکښې مخکښې د دواړو تير شوي او راروان ګناهونه اوبخښلې شي." (شُعَبُ الْاِيمان لِلْبَيهَقِي ٨٩٤٤ ج٦ ص٤٧١ دارُ الْكُتُبِ الْعِلْمِية بَيْرُوْت) (٥) لاس ورکولو وخت کښې د دُرُود شريف لوستلو نه وروستو که کيدې شي نو دا دُعا هم اولولئ: " يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ" (يعني اللّه عَزَّوَجَلَّ دِ زمونږه او ستاسو مغفِرت اوفرمائي) (٦) دوه مسلمانان چه د لاس ورکولو په وخت کومه دُعا کوي اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ **قبليږي** به، د لاسو جُدا کيدو نه مخکښې مخکښې به د دواړو مغفِرت [يعني بخښنه] اوشي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ (مُلَخَّصاً) (مُسنَدِ اِمام احمد بن حنبل ج٤ ص٢٨٦ حديث ١٢٤٥٤ دارُ الْكُتُبِ الْعِلْمِية بَيْرُوْت) (٧) په خپل مينځ کښې د مصافَحه کولو په وجه دُښمني لرې کيږي (٨) **فرمانِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي: کوم مسلمان چه د خپل وررور سره مُصافَحه اوکړي او د چا په زړه کښې د بل سره عداوَت [يعني دُښمني] نه وي نو د لاسونو د جُدا کيدو نه مخکښې به اللّٰه تَعَالٰی د دواړو تير شوي ګناهونه اوبخښي او څوک چه د خپل مسلمان وررور طرف ته د مَحَبَّت په نظر اوګوري او د هغه په زړه يا سِينه کښې عداوت [يعني

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

دُښمنې] نه وي نو د نظر راګرځولو نه مخکښې به د دواړو تیر شوي ګناهونه اوبخښلې شي. (كَنزُ الْعُمّال ج۹ ص۵۷) (۹) چه څو ځله ملاقات کیږي نو هره پیره یو بل سره مُصافَحه یعني لاس ورکولې شي (۱۰) د دواړه طرف نه یو یو لاس ورکول سُنَّت نه دي مُصافَحه په دواړو لاسو کول سُنَّت دي (۱۱) ځیني خلق د یو بل سره صرف د ګوتو سرونه جنګوي دا هم سُنّت نه دي (۱۲) د لاس ورکولو نه پس خپل لاس ښکلول مکروه دي. د لاس ورکولو نه پس خپل لاس ښکُلَول مکروه دي. د لاس ورکولو نه پس خپل لاس ښکُلَولو والا اسلامي ورونړه دِ خپل عادت لرې کړي (بهارِ شریعت ج۳ حصّه ۱۶ ص۴۷۲ مُلَخَّصاً) (۱۳) که د اَمرَد (یعني ښکلي هلك) سره په مُصافَحه کولو کښې د شَهوت يَره وي نو هغه له لاس ورکول جائِز نه دي بلکه که په کتلو کښې شَهوت پیدا کیږي نو کتل هم ورته ګناه ده (دُرِّمُختار ج۲ ص۹۸ دارُ المَعرفه بیروت) (۱۴) د لاس ورکولو وخت کښې سُنَّت دا دي چه په لاس کښې رومال وغیره [د دواړو د لاسو] د مینځه نه وي، چه دواړه ورغوي خالي وي او د روغوي سره ورغوې لګیدل پکار دي.

(بهار شریعت ج۳ حصه ۱۶ ص ۴۷۱)

په قِسم قِسم زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مَکتَبَةُ الْمَدِیْنَه دوه کتابونه (1) د 312 صفحو کتاب "بهارِشریعت" حصّه 16 او (2) د 120 صفحو کتاب "سُنّتیں اور آداب" هدیه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربیّت یوه غوره ذریعه د **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رَسُول سره د سُنَّتو نه ډک سفر هم دې.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات کنجُوس(يعني شوم) دې.(اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

# دِيدارِ مُصطفٰى ﷺ

د تبلِيغِ قرآن و سُنّت د عالمګِير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د **درې ورځو** د **بَينُ الاقوامي** سُنّتو نه ډکې اِجتِماع (مُلتان شريف) په ختميدو د **عاشقانِ رسُول** بيشميره **مَدَني قافلې** د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره کلي په کلي ښار په ښار په سفر روانيږي. په هم دې سلسله کښې د بَينُ الاقوامي اِجتِماع (١٤٢٦ ھ) نه د آګره تاج کالونئ (بابُ المَدينه کراچئ) يوه مَدَني قافِله د سفر په دوران کښې يو جُمات ته لاړه. د شپې چه کله ټول اوده شو نو په مدَني قافِله کښې د شريك يو اسلامي ورور قِسمت رابيدار شو او هغه ته په خوب کښې د **مدينې د تاجدار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار اوشو. هغه ډېر خوشحاله شو او د **دعوتِ اسلامي** د حَقّانِيَّت [يعني حق کيدو] قائِله شو او د **مَدَني ماحول** سره ئې تړون اوکړو.

کوئی آیا پا کے چلا گیا کوئی عمر بھر بھی نہ پا سکا
یہ بڑے کرم کے ہیں فیصلے یہ بڑے نصیب کی بات ہے

**د شعر ترجمه**: چا د راتلو سره خپله برَخه حاصله کړه او چا ټول عمر هيڅ هم اونه موندل، دا د ډېر کرم فيصلې دي، دا د لوئي نصيب خبره ده.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو**! تاسو اوليده! د **عاشِقانِ رسُول** د صُحبَت په بَرَکت يو خوش نصيبه اسلامي ورور ته د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو. د **دعوتِ اسلامي** د عاشقانِ رسول به څه وائي!

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ دُرُود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

د هم دغسې صُحبت د بَرَكت يو بل مَدَني سپرلي واورئ او خوشحاله شئ:

## زه د غير مُلكي فِلمونو شوقين ووم

يو فوځي اسلامي وررور څه داسې لِيكلي راكړي وو چه زه د ډيرو زياتو ګناهونو په تيَرو كښ ورك ووم، د غير ملكي سندرو بيشميره كيستې راسره وې او په هغې كښ مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ ډيرې سندرې په كُفرياتو مشتملې وې، غير مُلكي فلمونه كتل مې د ټولو نه زياته خوښه مشغله وه، د دې نه علاوه فِلمي سندرې او لطيفې اوريدل، تاش كول وغيره زما معمولات وو، ډير وران كارې او د مور و پلار ډير زيات نافرمانه ووم، غَرَض دا چه كومه ګناه به وې چه ما به نه كوله. په دې دوران كښ په فوځ كښ ملازِم شوم. د راولپينډۍ نه كوئټې ته بدل كړې شوم، په ټوله لار مې مسافر ډير زيات تنګ كړي وو چه څنګه اورسيدم نو هلته مې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اِسلامي د يو باعِمامه [يعني پټكي والا] اسلامي وررور سره مُلاقات اوشو چه هغه د ګُلزارِ طيبه [يعني سرګودها] اوسيدونكې وو. هغوئي په ما باندې اِنفِرادي كوشش اوكړو او زه ئې د ځان سره هفته واره سُنّتو نه ډكه اجتِماع ته بوتلل شروع كړم. زه د هغوئي د حُسنِ اَخلاق او خوږو خوږو د سُنّتو نه ډكو خبرو نه متاثِره شوم او د ټولو تيرو شوو ګناهونو نه مې توبه اوكړه او اوس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د دې بيان وركولو

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

وخت کښې د يو شُعبې د علاقائي مُشاوَرت د ذِمَّه دار په حَيثِيَّت د نمونځونو او سُنّتو دعوت خورولو کښې مصروف يم.

## د نيکانو سره مَحَبَّت کله د ثواب خبره ده؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د عاشِقانِ رسُول صُحبَت او د نيکانو سره مَحَبَّت يو لوفر سړې د کوم ځائ نه کوم ځائ ته اورسوو! تاسو هم هميشه د ښه صُحبَت اِختيارَولو او د نيکانو سره د مَحَبَّت کولو ذِهن جوړ کړئ، په **مَدَني قافِله** کښې سفر کولو والا خوش نصيبو ته د دې دواړو نعمتونو د حاصلولو بهترينه موقع نصيب کيږي. د نيکانو د مَحَبَّت به څه وائي! خو چه د دې مَحَبَّت مقصد صرف د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ رضا وي، د دُنياوي يا کاروباري فائدو د پاره يا د چا د ښکلي انداز يا د خبرو د انداز يا ښائِست يا مال و دولت په وجه مَحَبَّت ته د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د پاره محبَّت نه وائي تر دې چه صرف د وِينې د خپلوئ د جوش په وجه د مور و پلار، اولاد يا د بل کوم يو خپل سره محبَّت کول هم د ثواب کار نه دې، تر څو چه پکښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا د حاصلولو نِيَّت نه وي. "د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د محبَّت" مُتَعَلِّق په وضاحت کښې **مُفَسِّرِ شَهِير حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د يو بنده سره څوك صرف د دې د پاره محبَّت کوي چه رَبّ تَعَالٰی ترې راضي شي او په دې (محبَّت) کښې دُنياوي غرض (او) رِيا (يعني ښودنه)

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

نه وي په دې محبَّت كښې د مور و پلار، اولاد (او) اهلِ قرابَت مسلمانانو (يعني نِزدې خپلوانو [خويندو، ورونړو وغيره]) سره محبَّت تهول داخِل دي. هله چه دا (محبّتونه) د رضائے اِلٰهي (عَزَّوَجَلَّ) د پاره وي. د حضراتِ اولياء (رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی) او انبياء (عَلَيْهِمُ السَّلَام) سره محَبّت، سُبحٰنَ اللّٰه! دا خو د حُبّ فِي الله (يعني د الله عَزَّوَجَلَّ په لار كښې د محبَّت) اوچته درجه ده، الله عَزَّوَجَلَّ دِ ئې را نصيب كړي. (مِراٰة ج٦ ص٥٨٤)

## د "محَبّتِ رَسُول" د اته حُروفو په نِسبَت د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د پاره د محَبّت كولو اته فضائِل

(١) اللّٰه تَعَالٰی به د قيامت په ورځ فرمائي: چرته دي [هغه خلق] چا به چه زما د جلال په وجه د يو بل سره مَحَبّت كولو، نن به زه هغوئي د خپل سورې نه لاندې ساتم، نن زما د سورې نه سِوا بل سورې نشته. (مُسلِم ص١٣٨٨ حديث٢٥٦٦) (٢) اللّٰه تَعَالٰی ارشاد فرمائي كوم خلق چه زما په وجه په خپل مينځ كښې مَحَبَّت كوي او زما په وجه د يو بل سره كښيني او په خپل مينځ كښې ملاقات كوي او مال خرچ كوي د هغوئي سره زما مَحَبّت واجب شو. (الموطا ج٢ ص٤٣٩ حديث١٨٢٨) (٣) اللّٰه عَزَّوَجَلَّ اوفرمائيل: څوك چه زما د جلال په وجه په خپل مينځ كښې محبَّت كوي د هغوئي د پاره به د نُور مِنبرونه وي. انبياء و شُهَداء به په هغوئي غِبطه (يعني رشك) كوي. (تِرمِذی ج٤ ص١٧٤ حديث٢٣٩٧) (٤) دوه كسانو

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه پر ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (كَنْزُ الْعُمَّال)

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د پاره د يو بل سره مَحَبَّت اوكړو، يو په مشرق كښې دې او بل په مغرِب كښې، د قيامت په ورځ به اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دواړه يو ځائے كړي او فرمائي به هغه هم دا دې د چا سره چه تا زما د پاره مَحَبّت كړې وو. (شُعَبُ الْاِيمان ج٦ ص٤٩٢ حديث ٩٠٢٢) (٥) په جنَّت كښې د ياقوتو ستنې دي په هغې باندې د زبرجَد بالاخانې [يعني اوچت محلونه] دي، د هغې دروازې برسيره دي، هغه داسې روښانه دي لکه پړقيدونكې ستورې. خلقو عرض اوكړو: يارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغو كښې به څوك اوسيږي؟ اوئې فرمائيل: هغه خلق څوك چه د اللّٰه د پاره مَحَبّت كوي، يو ځائے كښيني، په خپل مينځ كښې ملاقات كوي. (شُعَبُ الْاِيمان ج٦ ص٤٨٧ حديث ٩٠٢٢) (٦) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د پاره مَحَبّت كوونكي به د عرش نه چاپيره د ياقوتو په كُرسو [ناستې] وي. (اَلْمُعْجَمُ الْكَبِير ج٤ ص١٥٠ حديث ٣٩٧٣) (٧) څوك چه د اللّٰه د پاره مَحَبّت ساتي د اللّٰه د پاره دُښمني ساتي او د اللّٰه د پاره وركړه كوي او د اللّٰه د پاره [د وركړې نه] اِنكار كوي نو هغه خپل اِيمان كامِل كړو. (اَبُوداؤد ج٤ ص٢٩٠ حديث ٤٦٨١) (٨) دوه كسان چه كله په خپل مينځ كښې د اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) د پاره محبّت كوي، په هغوئي كښې جُدائي هغه وخت اوشي چه په هغوئي كښې يو څه ګناه اوكړله. (الآدب المفرد ص١٢١ حديث ٤٠٦) يعني چه كوم مَحَبّت د اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) د پاره وي د هغې پيژندل دا دي چه كه يو ګناه اوكړه نو بل د هغه نه جُدا شي. (د تفصيلي معلوماتو د پاره د مكتبةُ المدينه چاپ شوي بهارِ شريعت حصّه ١٦ صفحه ٢١٧ نه ٢٢٢ پورې اولولئ)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لَس رحمتونه نازل کړي. (مُسلِم)

# د درود په ځائ ؐ ليکل حرام دي

صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي محمد امجد علي اَعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: په عُمر کښې يو ځل **دُرُود شريف** وئيل فرض دي او په هر **مجلِسِ ذِکر** [يعني په هر هغه ځائ کښې چه حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پکښې ياد کړې شي يعني په هغه ځائ] کښې **درود شريف** وئيل واجِب دي، که پخپله مبارك نوم واخلي يا ئې که د بل نه واوري. که په يو مجلس کښې ١٠٠ ځله هم مبارَك نوم ياد کړې شي نو هره پيره **دُرُود شريف** لوستل پکار دي. که مبارَك نوم ئې واوريدو او هغه وخت ئې **دُرُود شريف** اونه لوستو نو بل وخت دِ د هغې په بدله کښې دُرُود اووائي. چه مبارَك نوم ليکي نو دُرُود شريف دِ ضرور ليکي ځکه چه د ځيني عُلماء په نِزد هغه وخت **دُرُود شريف** ليکل واجب دي. اکثر خلق نن صبا د دُرُود شريف (يعني د پوره صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په ځائ صلعم، عم، ؐ، يا ؑ ليکي دا ناجائِزه او سخت حرام دي. دغسې د رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په ځائ ؓ، د رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په ځائ ؒ ليکي دا هم ناجائِزه دي. (بهارِ شريعت ج١ حصّه ٣، ص٥٣٤) دغسې د الله عَزَّوَجَلَّ نوم چه اوليکئ نو "ج" پرې مه لکوئ، عَزَّوَجَلَّ يا جَلَّ جَلالُهٗ پوره ليکئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیك او مونځ ګزاره جوړيدو دَ پاره

هر زيارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښ کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو نه ډکه هفته واره اجتِماع کښ د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ۞ د سُنّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښ د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د دري ورځو سفر او ۞ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبي تاريخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښ سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ




www.dawateislami.net

مكتبة المدينة
MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net